

په کابل ښار کې دغیرپلاني استوګني ډول

## آیا شرعي قبالې او محکمې به دځمکې په سرشخړې حل کړي؟

شخړې لانجې دجایداد دموقعیت ( پلاني یا غیرپلاني) او دې ته ورته دقبالو (شرعي یا عرفي) له مخې توپیرکوي، دشخړو رسمي حل سیستم دځمکو شخړو دڅانګړې محکمې پربنسټ دپلاني ملکیتونو شخړې، چې په پانګه والو اشخاصو پورې اړوندیږي او دځمکه والو او اقلیت استازیتوب کوي، حل کوي. که څه هم چې کابل کې ۲،۴ میلونه ناپلان شوي استوګنې شته، چې همیشه دناپلان شویو شخړو دحل مجلسونو او غونډو ته ځي راځي . دغه یادښت دملکیت دمصؤنیت مسایلو ته دنه رسیدنې په منظور ملکیتونو دحقوق دقانوني ګرځولو له پاره دمیکانیزم درامینځته کیدو داړتیا له مخې لیکل شوی خو دامنی چې دمالکیت دحقوقو مصونیت دټولو شخړو حل کوونکی نه دی.

دکابل په ښار کې دناپلان شوې پراختیا او په کال کې د۵۰٪ فیصده نفوس زیاتوالي ته په پاملرنې سره باید ددې ډاد ترلاسه کیدوله پار هڅه وشي چې دځمکو دشخړو دحل سیستم ټولنیز میکانیزم موجوده شخړو حل ته درسیدنې په منظور یوه اغیز مناکه لاره ده او په ځانګړې توګه دناپلان شویو ځمکو دشخړو له حل څخه حمایت او ملاتړ کوي.

۱

### په کابل کې دشخړو دحل دمیکانیزم پیژندنه

دملکیتونو دشخړو دحل درسمي او غیررسمي میکانیزمونو ترمینځ په جلا والي او توپیر باندې دپوهیدنې هیله موجوده ده، زیاتره مالکین دشخړو دواړه حل لارې عادی او دمحکمې پربنسټ ( رسمي او غیررسمي) رسمي ګڼې، برعکس هغوی غیررسمي میکانیزم داسې تعریفوي چې هیڅ قانوني سازمان یا ارګان ، لوړپوړی چارواکې او رسمی اشخاص په هغې کې دخپل نه وی، یا دملکیت دسند هیڅ ډو ل عرفي یا شرعي مدرك موجود نه وي، پیژندل شوی، رسمي ارګانونه، چې له دځمکو دشخړو ځانګړې محکمه(۲ برخې ته پاملرنه وکړئ) لوړ پوړې چارواکې یا هغه وګړي چې سیمه ییز مقام لري،لکه دکوڅې وکیل او یا دجومات امام پکې شامل دی.

ددې ټولو توپیرونو له په پام کې نیولو پرته مینځګړې یوه وسیله ده چې هم په رسمي او هم په غیر رسمي ډول له هغې څخه استفاده کیږي.

شریعت، دعمومي قوانینو مجموعه او دعامو کړنلارو پرمجموعې برسیره دهیواد قوانین په کړنلارو باندې خپل ځانګړې تاکیدونه او ټینګارونه لري، چې په عمل کې درسمي او غیررسمي پروسې جلا والی او توپیر له مینځه وړي . په شریعت کې منځګړیتوب دتطبیق په وړاندې په ثابته او بدلون نه منونکی ډول دنظام لومړیتوب ته ترجیح ورکول دي.

په مجموع کې عام قوانین، سیمه ییز ارګانونه، لکه: سیمه ییز مشران او شوراګانې، جوانبو ته په پاملرنه په مسایلو کې دخیل دي، محکمه دشخړو دحل دمیکانیزم په لور دریم قدم دی، چې دقانون له خوایې توصیه شوې ده.

عملا محکمې، دشخړو دحل کمسیون او نورو

رسمي ارګانونه دي ته ترجيح وركوي چې عارضين خپل شكايتونه دلزوم په صورت كي له محكمي څخه دباندي حل وفصل كړي او زياتره دغه قضيې چې رسمي ارګانونه هغې ته رسيده كې كوي، معمولا دی دمنځګړی له لاری حل شي. دمثال په ډول: دكابل ولايت دلويي څارنوالی رياست ددې قضيو يو پردريمه برخه پخپله حل كوي اويوازې پاتي څلورمه برخه قضيې چې ترقانوني غورلاندي نيول كيږي ، محكموته ليږل كيږي. دعدليې وزارت دحقوق دڅانګې اصلي موخه اوهدف منځګړيتوب دی . ان داچې قاضيان دځمكي دشخړويه څانګړې محكمه كي ددعو كوونكو ترمينځ منځګړيتوب كوي. په نتيجه كي يوازيني واقعي توپير او جلا والی چې بايد دشخړو دحل په ميكانيزم كي وشي له هغې ارزيابی څخه عبارت دی چې آيا مناسبه ده هغه شخړې په تولنه كي دمنځګړيتوب پربنسټ ( مثلا دحدود اربعه يا عامو لارو ته دلاس رسيدنې په حقوقو باندې شخړې) چې په رسمي محكمه كي دحل له پاره پرتې دي، حل وفصل شي كه نه؟ يو بل مهم عامل چې دشخړو په حل كي دميكانيزم د ډول څخه داستفادې تاكونكی دي، دعامو وګړو له ماهيت څخه سرچينه نيسي. اغيزناكې تولنيزې كړنلارې لازمې ګني چې ددعوې دواړه خواوې بايد ژمنه وكړي چې دمنځګړي پريكړې ته بهغاړه ږدي، دټولنيز موقف او زور وينه هم دپريكړو تصميمونو په عملي كولو كي لازمي ګڼل كيږي، بايدیادونه وكړو چې په ټولني پيژندنه او قدرت كمزوري وي شخړې كوونكی دمينځګړو تصميمونواو پريكړوته ډيره لږه غاړه ږدي.

## ۲ دملكيت سند او په پلانی ساحو كي دشخړو دحل ميكانيزم

### په پلاني ساحه كي دملكيت سند:

دملكيت سندونه په دري ډوله دي: ۱- شرعی قباله ۲- عرفي قباله ۳- غيررسمي قبالې.
شرعي قبالې هغه اسناد دي چې په محكمو كي ترتيب شوي وي او د وراثت ، پيرودنې ، هديې او يا دملكيت دبل ډول معاملي څرګندوی وي.
معمولاً پاتګه وال ملكيت لرونكی چې دباكيفيته ودانيو لرونكی دی،شرعي قبالي لري. عرفي قبالي هغه اسناد دی چې دكوخې يا بلاك دوكيل په واسطه لاسليك شوی دی، اوغير رسمي قبالي هغه دی چې سيمه ييز مشران هغه قبالي په رسميت نه پيژني ( دريمه برخه وګورئ)
متناوباً دمالیي دوركړی اسناد او حق آب عقبه ( دملكيت با اعتبار مدرك ښيي) چې دمالياتو دثبت په كتاب كي درج شوی وي، هغه هم په داسي ډول چې رسما د دولتي ارګان له خوا صادر شوی وی.

| لومړی جدول: دګذر دنمونو داستحقاق فيصدي | | | |
|---|---|---|---|
| ګذر | شرعي قبالې | عرفي قبالی | غيررسمي قبالی يا دقبالی پرته |
| دندونار ۷ناحيه | < 20% | 80% | 0 |
| سياه سنګ ۸ناحيه | 7% | 63% | 30% (post 2001) |
| چهل ستون ۷ناحيه | 30% | 70% | 0 |
| سربيه۷ناحيه | 5% | 60% | 35% (post 2001) |
| ملابزرګ ۷ناحيه | 28% | 42% | 30% (post 2001) |
| نوآبادده افغانان ۲ناحيه | 75% | 19% | 6% |
| يوان هبيتات دپروژې ساحه ۷ناحيه | په شمير | زياتره | 0 |
| يوان هبيتات دپروژې ساحه ۷ناحيه | ځينې | ،زياتره | |

منبع: دګذر وكيل او اوسيدونكي .

دهغو ليدنو كتنو له مخې چې د ۸ناحيې له وكيلانو او اوسيدونكو سره وشوی ، شرعي قبالې غيرمعمولی دی او يوازې ٪۵ څخه تر ٪۳۰ دملكيت ټول اسناد ښيي، پرته د دويمې ناحيې دده افغانانو په نوآباد كي چې په سلوكي تر ٪۷۵ پورې رسيږي (لومړنی جدول وګورئ) په دی اړه بايدوويل شي په هماغه پيمانه چې دجايدادونو ارزښت لوړوی، په هماغه اندازه د غير منصفانه اشغال او نيوني سره مخامخ كيږي او په همغه اندازه چې اسناد رسمي او پاتي وي په هماغه اندازه له شخړې او لانجې سره مخامخ كيږي. دناروې مرستندويه خيريه شورا له يادښتونو سره سم دملكيت دپيښوپه سلو كي ٪۷۱ دمالكيت شخړې دځمكو دشخړو څانګړې محكمي ته سپارل شوې دي ، په همدې اساس شرعي قبالي مستقيما٪۳۰
( past۲۰۰ دجايداد په تامين او يا حل اويا دمالكيت دشخړو په فسخ پورې اړيكي نه نيسي.

### رسمي پروسې : دځمکې دشخړو ځانګړې محکمه:

دځمکو دشخړو ځانګړې محکمه مخصوصاله راستنیدونکو دا داخلي بې ځایه شویو اوهغو کسانوسره دسروکار له پاره چې له ۱۹۷۸ میلادي کال راهیسې له خپلو شخصي مالکیتونو څخه بې برخې کړل شوي د ي ، تاسیس شوې ده، نه دولت او نه هم ددولت استازې کولی شي چې دغیر شخصي جایدادونو دتلافی له پاره له محکمې څخه استفاده وکړي.
دمحکمي ودانی له ۲۰۰۲ میلادي کال څخه را پدې خوا ترمیم شوې ده او نن ورځ له ۱۸ قاضیانو څخه مشتمله ده، چې په دوومحکمو کې دنده سرته رسوي :یوه محکمه یې دکابل او بله یې دټول هیواد له پاره ده، همدارنګه یوه داستنیاف محکمه هم په دې ځانګړې محکمه کې تاسیس شوې ده.
دشخړو ځانګړې محکمه نشي کولی چې لهورحواله شویو قضیو سره په اغیزناکه اوچټکه توګه کړنه وکړي، دهغې دپلاني مقرراتو سره سره باید قضیې په دوو میاشتو کې حل کړي، یوازې په سلو کې ۵%درج شوې قضیې حل شوې دي.
هغه سترخنډونه او موانع چې ددې محکمې په اغیزناکو کړنو باندې تاثیر لري، په دې لاندې ډول دي:

- محکمه دزیاتو قضیو سره معاملې کولو ځواك او توان لري.

- د دولت له نورو نمایندګیو، په ځانګړې توګه له پولیسو سره داړیکو نشتوالی، چې په نتیجه کې دتصمیمونو منل یو له ستونزېك کار ګڼل کیږي.
(پولیس دغیر قانوني استوګنو له خوا ددې جملې په ویلو چې ومی نه کړای شول چې هغوی پیدا کړم، رشوت ورکول کیږي)

- په زیاترو قضیو کې زیاتې ستونزې نغښتې دي، په ځانګړې توګه دهغو جایدادونو په قضیو کې چې دځو مالکینو له خوارا کړ ورکړه شوی وي، هر یویې دخپل زیان د جبیره کولو په هڅه او لټه کې دي.

- داستنیاف طلبي حقوقو له تاسیس څخه را په دې خوا په سلو کې ۸۰٪ قضیې چې دیو له طرفینو په ګټه صادرې شوې دي، داستنیاف طلبی له پاره یې محکمی ته لیږلی دي.

- قضیې وخت ته اړتیا لري، په ځانګړې توګه په هغه صورت کې چې ادعا دجعل په مدارکو یا سنادو ولاړه وي، اسناد دتصدیق په منظور دسترې محکمې مقرته لیږل کیږي.

- هغه نقل قول چې مراجعینو له دېلي څخه دیوه په خوله ویل شوی دی، له دې څخه عبارت دی: هیڅ یو ه قضیه له رشوت له ورکړې پرته په چټکی سره نه حل کیږي او نه پرې غور کیږي.

- بالاخره قاضیان عموما دپاخه عمر خاوندان دي او دشریعت له دایرې څخه باندې نوره اضافي او کافي زده کړه او تحصیل نه لري.

دکابل زیاتره استوګني چې پخپل سرو دانو شویو کورونوکي ژوند کوي، له پوهي، وخت، رابطې، ډاډ او پانګې څخه برخمن نه دي او پلاني مرکزونو ته دخپلو شکایتونو او عرضونو د رسولو توان نه لري. دغه طبقه دملکیت دسندنه لرلو له امله دخپلو کورونو دخالي کولو څخه په ډاډ کې دی.

## ۳
## دملکیت سند او پخپل سرجوړ کړو کورونو دشخړو دحل میکانیزم

### عرفي قبالې:

عرفي، میراثي او اخیستل شوې قبالې له هغو اسنادو څخه عبارت دی چې دشاهدانو په حضور کې دسیمې یا د ناحیې په سطح ترتیب شوي او دګذر دوکیل په وسیله دهغه سیمې د پیژندل شویو غړیو له پاره لاسلیك کیږي، هغه کورنی چې لږه یا متوسطه ګټه یا عاید لري او په غیرپلاني کورونوکې استوګنه کوي ، دعرفي قبالو لرونکي دي. هغوی معمولا دویش یاپلورنې اسناد لري چې دمیراث حق ته په کتنه صورت نیسي.
دغه قبالې دهغوی دمعمولي وندي اسناد دی چې په نسبتا تیته بیه په لاس راځي او دشرعی قبالو معادله دي .څیرنې څرګند وي چې تول ګذرونه پرته دده افغانانو له نوآباد (۲ناحیې) څخه چې دهغې دعرفي قبالو لری له ۴۲٪ څخه تر ۸٪ پورې رسیږي، (لومړی جدول ته پاملرنه وکړئ)
دقانون په اساس عرفي اسناد دجایداد نو

دمنلو وړ ثبوت دی ، په هغه صورت کې چې له ۱۹۷۸ کال څخه دمخه ترتیب شوی وي قانون بیلابیلي خواوې او اړخونه لري او قاضیان معمولا شریعت له خپل نظر نه تفسیروي چې په سیمه ییزو شاهدانو باندې دجایدادو په حقوقو او تصرف باندې دتصدیق او دصحیح ګڼلو په منظور ډیرتاکید او ټینګار کوي، دقانون یو مهمه ماه دتصرف دحقوقو مصونیت تامینوي په هغه ځای کې چې هغوی پر هماغو جایدادونو پرله لسی ۱۵کاله پرته له شخړې او انتقاد څخه ژوند کړی وي او دهغه غیر منقول جایداد اصلي مالك وي( ۲۷۷۹ ماده ) له دې امله چې عرفي اسناد دعوامو په ګټه دي او دمالکیت سند یې دمنلو وړ دی ، په دې ملکیت باندې شخړې لږې او تامین یې هم ډیر باثباته وي.

## غیررسمي اسناد:

غیر رسمي اسناد هغو اسنادوته ویل کیږي چې دګذر دوکیل یا دلوړپوړې دولتي چارواکي پواسطه لاسلیك او تائید شوې نه وي، هغه څوك چې ددغسې اسنادو لرونکی وي، دیواستوګنې په توګه له زیاتو خطرونو سره مخامخ کیږي، په زرګونو ( اوښایي له یوملیون څخه زیات) نوي راغلي چې په وروستیو کلونو کې یې ځمکه رانیولې او په عامه ګاونډیو ځمکو او موجودو داستوګنو په ساحو کې دکورونو په جوړولو پیل وکړ په دغسې حالت کې قرار لري. هغوی دناپلان شویو ساحو داستوګنو په توګه ګڼل کیږي او دګذر وکیلان چې دځمکو معاملې یې نه لاسلیك او نه یې تاییدوي، په نتیجه کې دغسې اوسیدونکی دهیڅ ډول شرعي او یا عرفي قبالې لرونکی نه دي ، په هغو ساحو یا ګذرونو کې چې دځمکو غصبول له ۲۰۰۱ میلادي کال راپدې خوا پیښ شوی دی ٪۳۰څخه تر ٪۳۵ پورې کورنی هیڅ ډول قباله، حتي غیر رسمي اسناد هم په لاس کې نه لري دلومړی جدول ته پاملرنه وکړئ)

## په ټولنیزو سازمانونو کې دشخړو دحل کړنلارې

دناپلان شویو ساحو ټول اوسیدونکی په بیلا بیلو بڼو له قانون څخه سرغړونه کوي او هغوی په ډیر ندرت سره په محکمو کې درسمي او یا غیر رسمي مالکیت دحقوقو په اړه مشاجرې کوي، دهغوی اندیښنه، چې قضیه به یوه ډیره خطرناکه بڼه خپله کړي ، لکه د خپلو کورونو خالی کول، په ځانګړې توګه دهغو اوسیدونکوله پاره چې په دولتي ځمکو کې یې استوګنه غوره کړې ده ،دوی ډیر متاثر کوي.

دناروې دخیریه شورا له معلوماتو سره سم په سلوکې ۱۴٪ هغه قضیې چې حل وفصل شوې دي، په عامه ځمکو پورې اړوندې وې، په مقابل کې ٪۸۶ شخړې پر شخصي ځمکو باندې او ٪۳۱ قضیې پر هغو جایدادونو وې چې هلته خدمتونه نه وړاندې کیږي.( په مقابل کې ٪۶۹ جایدادونه چې هغې ته خدمتونه وړاندې کیږي) په ځینو پلانی ساحو کې دمثال په ډول: یو کور دبل کور پرحریم تجاوز کوي، پلې لارې دکثافتونو په غورځولو ویجاړې شوې دي، دیو محوطې واوره پاکه شوی او په بله کې راټوله شوې ده، په داسې حال کې چې دغسې موضوعات ډیرواره او له نظره غورځیدلي ښکاري، کله کله دډیرو سختو او کلکو جګړو سبب شوي دي په دغسې وختونو او حالاتو کې دټولنیز و سازمانونو میکانیزمونو ته دوخت ،باور او دصلاحیت حدودوته په پاملرنه ډیره ترجیح ورکول کیږي.

دیوې ټولنې په سطح دجوماتونو شورا دمناسبو مراجعوته دشخړو او لانجو دسوق کولو مسووله ده.

دیوې شخړې دحل له پاره سیمه ییزمیکانیزم مشتمل دی پر:

۱- ګاونډیان او مشران ۲- دجوماتو شورا، چې دهر جومات له استازیو او نمایندګانو څخه جوړه ده ۳- دګذر وکیلان.

ددې میکانیزم مهمه ځانګړنه دا ده چې عاملین همیشه یو ډول نه په ګوته کوي.او له هغه یو سره هم چې شخړې دحل په پروسه کې مرسته او همکاری کوي، کومه تنخوا نه ورکول کیږي. دشخړو دحل هیڅ ډول ثابته او معتبره شورا چې درشوت دکمښت سبب وګرځي، وجود نه لري. له دې سره سره دټولنیزو سازمانونو کړنلارې دشخړو دحل اغیزمنې وسیلې، په بیا هم حکمراني ددخیلو ډلو په نسبت ډیره متمایله وي.

## دپالیسی نتیجې او وړاندیزونه

دقبالو دصدور او دشخړو دحل میکانیزم په برخه کې وړاندېزونه په دې برخه کې په لنډيز سره او دپالیسی په پنځم یادښت کې بیا په تفصیل سره وړاندې شوي دي . دملکیت دسند درسمي اسنادو نشتوالی (لکه قبالې چې په محکمو کې ترتیب شوي ، دځمکې او املاك دا راضي دثبت او استوګنې دنورمونو ثبت او راجستر پربنسټ ارزښتمنی څیزنې) دشخړوعوامل نه دی، څرنګه چې په هماغه اندازه چې اسناد رسمي وي ، په هماغه اندازه له ادراي فساد څخه، اوان داچې له شخړو اولانجو څخه لري وي.
دمالکیت دحقوق مصؤنیت یوازې دشرعي قبالې دلرلو له امله ثبوت ته نه رسیږي ، بلکې اساسا هغه داخلي انسجام او ټولنیز ثبات باندې ثبوت ته رسیږي.
له دې امله دبلډوزر ډار او ویره دغیر پلاني ساحو په ټولو استوګنو کې خپره ده، خو هغوی چې لږ جایدادونه او متوسط عواید او ګټه وټه په ناپلان شویو اوپخوانیو ساحو ، خو دښار په آبادو سیمو کې ژوند کوي،تقریبا دمالکیت دحقوق له مصؤنیت څخه برخمن دی.
دمالکیت دحقوقو په مصونیت کې دوه مهم اړخو نه شته دی :
لومړی‌زیاتره استوګنې چې خپل حقوق یې په عرفۍ ډول ترلاسه کړي او ساتلي دی ( داخیستل شویو یا میراثي جایدادونو عرفي قبالې) دویم: ذیربط او هغوی چې په ترلي ټولنیز چاپېریال کې دسیمه ییزو مشرانو له مقاماتو، سیمه ییزنورم، او دټولنیز قانون داجرا په اغیز من سیستم کې ژوند کوي.
عنعنوي یا سیمه ییزو نورمونو ډیره عالی زمینه اولاره چاره برابره کړي چې پرهغیې باندې په تکیه کولو سره کولی شو دملکیت دمعتبر سند، ځواب ورکوونکي او دباوروړ سیستمونه رامینځته کړو، چې دغه سیستمونه دزیاتره ښاري مالکینو له پاره په اسانی دلاس رسی وړ دي.
په عمل کې ، دواړه رسمي او غیررسمي پروسې خپل نقشو نه لري، لکه څنګه چې دیوشمیر پیچلو عواملو لکه: طبیعي پیښې ، دهغې موقعیت،او حل منلو پواسطه ټاکل کیږي، ځینې شخړې په بشپړه توګه غیر عادلانه دی چې دهغو په حل کې باید ټولنیزې مداخلې وشي، په داسې حال کې چې ځینې نورې غیر لازمي شخړې محکمې او رسمي ادارو ته لیږل کیږي، په ځینو حالاتو کې رسمي ادارې زیاتره لازمي لارښوونې کوي.
چې موضوعات باید په غیر رسمي بڼه ( مثلا په ځینو پیښو، لکه په حدود اربعه او یا دعامې لارې حقوقو ته لاس رسیدنه) حل وفصل شي. په عمومي ډول درسمی او غیررسمي اړیکو میکانیز مونه ( اداري یا رسمي او ټولنیز اوسیمه ییز) سره نږدې دي او کولی شي په اغیزمنه توګه سره ښه والی وموومي ، په محکمو کې پر عادلانه قضاوت باندې دخلکو باور له دکوچنیو ټولنو په سطحه دشخړو حل له پاره د ډیر مهم پس منظر او دور نما څخه عبارت دی.
دشخړو دحل او دمحکمو داجراااتو له پاره دکړنلار وبڼه کول او دخلکو په وړاندې حساب ورکول، نه یوازې دا چې له موجودې شخړې سره په مناسب اوچټکه توګه چلند کول دی ، بلکې د نویو شخړو دشمیر دلوړیدو دمخنیوي له پاره یوه لاره هم ده داوسنی حالت دثابت ساتلو له پاره قضایي رسمي دعوی ، په اصل کې د دخالت په نسبت دملکیت ډول دی، چې په همدې ډول به پاتې شي، د دولتي او قانوني حمایتونو یا ملاترونو منطقی هدف دځمکو دشخړو دخانګړې محکمې له رامینځته کیدو څخه عبارت دی، چې هغه یو مهار کیدونکی او ناپیلي واحد دی چې کولی شي داصلاحاتو پیلامه واوسي.
نومړې محکمه باید په مسلکي توګه دطرحه شوې نظارتي یا څارونکی، حمایوي او اجرائیوی سیستم لرونکی وي چې وکړای شي خپل بریالیتوب په څرګنده توګه داسې ښکاره کړي چې خلك هغه دصداقت او عدالت دکور په توګه وګڼي. له په پام کې نیولو پرته هغه پیښې او قضیې چې نوموړې محکمه هغه حل وفصل کوي، محکمه دیو ډیر ښه او وړارګان په توګه پیژندل شوی، چې دښآر دخلکو باوري یې راجلب کړی او قانون په عمل کې پلی کوي.
که څه بایدله یاده یې وباسو چې په اوسنیو شرایطو کې محکمه یوازې دشتمنو خلکو له پاره یا دهغوی په ګټه ده او دمحکمې دندې او عامه حساب ورکول دشخړو دچټك حل سبب ګرځي په ښه ډول

**دمحکمې د دندوسرته رسيدل دنويو شخړو درامينځته کيدو دکمښت سبب کيږي.**
**دنوي ټولنې په سطحه دښار زياتره اوسيدونکی پرته دمصونيت له لرلو څخه پردولتی ځمکو ( دعرفی مدارکو یا پلانی ملکيت او يانورو په وسيله) استوګنه لري، دا د دولت له پاره يو سياسي چيلنج او ستونزه د ه عملا حدود دارزانه اوسيمه ييزو ټولنيزو سيستمونو در امينځته کيدو په منظور د شواهد دصدور مراقبت او ساتنې له پاره ډير زيات دی . همدغسې يو سيستم دموجوده سيمه ييزو عنعنو پربنسټ شواهد رامينځته کړی، دهغې دمډرنيزه کولو اساسي بنه به داوي چې دشواهدو مرکز به سيمه ، دټولنې په سطحه اويا دټولنې عاملينو ذيدخل کول خوندی کړی او ويې ساتې، که څه هم چې سيستم بايد دسيمه ييزو عنعنو له رسمي ګرځولو څخه مخنيوی وکړي، په داسې ډول دعامو او عادي خلکو ګټې او اساسا دغير رسمي ارګانونو ګټې له خطر سره مخامخ نه کړي.**
**په ټاکل شويو ناحيو کې به دټولنيزو سازمانونو سيستمونه اجراء شي، دګذروکيلان دجوماتونو شورا او نور غير رسمي مرکزونه، لکه ټولنيزې کميټې چې تاسيس شوې دي، په پروسه کې دخيلوې.**
**دڅرګندو پروسو تشريح چې دټولنې غړي ، کميټې او رهبران يا مشران دي، دشخړو دعادلانه حل، چې دغير پلاني ميکانيزمونو دمقام او اعتبار دزياتوالی او لوړاوی سبب ګرځي، ومنی، دسولې ، مينځګړيتوب او اساسي پلاني اصولو په برخه کې به زده کړه او ښوونه ګټوره وي په ټولنيزو سازمانونو کې دشخړه کوونکو ترمينځ دسولې او روغې جوړې له پاره قضايي کميسيون دمسودې (دسولې د شوراګانوقانون ) په ترتيب باندې پيل کړی دی، دقانون مسودې سيمه ييزنورمونه، دبشر حقوق ، سيمه ييز قوانين او اسلامي ارزښتونه په پام کې نيولې دي او تصميم لري چې محکمې ته دزياتو پيښواوقضيو دراتګ مخه ونيسي. دغه هڅې او هلې ځلې بايد دوام ومومي.**
**ټولنيز ميکانيزم کولی شي باور او ديادښتونو حساب ورکولو ته زياتوالی ورکړي او همدارنګه په زرګونو کورنی به په دې توانوي چې خپل کورونه په ارزانه او نسبتا چټکه توګه مصون کړي.**

دپالیسی دغه یاد ښت په نړیوال بانك دجنوبي آسیا دزیر بنایي او انرژي واحد له خوا دسندونو له مخې ترتیب شوې دی.
کابل: دښاری ځمکو لانجې اوشخړې د ۲۰۰۵ کال دسپتمبر دمیاشتې دپالیسی یادښت چې د ۲۰۰۴کال دسپتمپر له میاشتې څخه د۲۰۰۵کال دجنوري ترمیاشتې پورې دترسره شویو څیړنو له مخې برابرشوی دی .